



د مولانا سعید افغاني : آزاده ، ټولنیزه ،علمي ، فرهنګي او نشراتي ارګان ته ښه راغلاست!



# انجینر محب الرحمن « خطیبي »

د نشر نیټه : 6 سپتامبر 2015 م

# دغم پیټی

څوبه خوری غمونه وړ ځیګر زما؟
څوبه غم ولاړ اوسی په در زما؟

څه وخت به داهجر سفرونه کړی؟
څه وخت به را وخیژی لمر زما؟

واوره غلیم ورک به دی حکمونه شی
غم به ستا نور نه وی لروبر زما

واوره هجره لاړشه حکم مکوه
ورک دی ناره شي له بشر زما

تا چه دا پیټی دغم راکړی ده
مات یی کړ وزر اوس له کمر زما

واوری میناںو ورک خوبونه کړي
غم به څه لاآلوزی په غر زما؟

نه به وو داغم که می رقیب نه وای
څه به وو داغم په لوی تغر زما

ډېر مې انګارو کې حوصیلې کړلې
دا انګار چه سوځی اوس وزر زما

بس که هجره بس که پما هجر دی
ورک دی شه نور هجر له نظر زما

څوبه مې دامینه په هجرو کې وی؟
څوبه مالګه پاشی په پرهر زما

بسکه محب بسکه خوله دی پټه کړه
ډک دی زندانونه اوس تر سر زما

****
محب الرحمن « خطیبي »

بازګشت به صفحه اصلی www.said-afghani.org